مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر

۲۰۲۰/۰۴/۰۱

# دردمند مهربانان

د بیکسانو غمـــــخواران چـــیرته دي
هغه سپیــځلي انســـــانان چـــیرته دي

کړي چې احساس زمونږ د زړه دردونه
داسي دردمند صـــــــاحبدلان چیرته دي

خدمت چې وکړي، په ریښـــتیا د وطن
داسي زړه ســـوانده، خادمان چیرته دي

چې له خوبونو د غفلت مـــو کړي ویښ
دي ګلســتان کې، بلبلان چـــــیرته دي

بیا چې د سـولي زیرى راوړي مونږ ته
د دي چـــمن عـــندلیبان چـــیرته دي

تولـه نړۍ چـــې، په وینـــا پـوهـــوي
داسي دانا ســـخنوران، چـــیرته دي

چې د غـرقاب نه دا کشـــتى، و کاږي
هاغـــه دردمند مهربانان چـیرته دي

چې په پـرهر زړونو مــو کیږدي مرهم
داسي دردمنه، آشــــنایان چیرته دي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ